## مطبوعاتي اعلامیه

**په چین کې مسلمانان په شرابو د روژې ماتلو ته اړ کېږي او د خویندو جامې مو لنډوي!**

(ژباړه)

د اسلامي هویت د ځپلو او د رسول الله صلیه الله علیه وسلم پر امت د سخت ظلم نړیواله اجنډا پر DOAMmuslims ویبپاڼه ژوندۍ او فعاله ده، دا ویبپاڼه چې د مسلمانانو پر وړاندې د ظلمونو په مستند کولو کې تخصص لري؛ داسې عکسونه یې پورته کړي او هغه ځایونه یې ښودلي چې هلته د مسلمانو ښځو اوږدې جامې پرې کېږي. دا د ښځو د حیا پر وړاندې ناوړه عمل او مستقیم سپکاوی دی.

همداراز نورې مستندې پېښې هم شته چې مسلمانان په زور په شرابو روژې ماتولو ته اړ کېږي. داسې یو درک موجود دی چې د اسلامي اعمالو د سپکاوي پر وړاندې هېڅ خنډ نشته؛ ځکه خو دغو ناوړه کړنو ته اجازه ورکول کېږي. پرهېزګارې مسلمانې ښځې له پامه غورځول شوې او په اړه یې غفلت کېږي؛ همدا سبب دی چې د اسلام د دښمنانو له لوري بې عزتي او ځورویني.

زرګونه مسلمانان د اجباري کار په کمپونو کې دي او په رواني توګه یې مغز داسې جوړېږي چې د روژې مبارکه میاشت کې نااسلامي ارزښتونو ته غاړه کېږدي. ډېری وخت د مسلمانانو اولادونه له دوی څخه اخیستل کېږي او نامسلمانو کورنیو ته ورکول کېږي. دغه ناوړه حالت له کلونو راهیسې د نړۍ د سترګو پر وړاندې روان دی.

څومره نورې روژې به داسې تېرېږي چې زموږ خویندې په اجباري توګه شنډېږي او په عام محضر کې د خپل عزت له پټولو منع کېږي؟

نور به څومره رهبران ځي او راځي او د دوی د بې عزتۍ او ځور د مخنیوي لپاره به هېڅ نه کوي؟ چېرته دی د مسلمانانو هغه متقي او مخلص رهبر چې امت د دغو مشرکینو له ظلم څخه خلاص کړي!!؟؟

موږ باید د هغو نظامونو پر وړاندې ودرېږو چې دغو پېښو ته اجازه ورکوي او باید په خپله ټوله هڅه د خلافت د تاسیس لپاره کار وکړو؛ ځکه چې خلافت د وخت شدیده اړتیا ده. زموږ د ماشومانو فکر او حواس باید د نړۍ په بې ګټې تفریح ګډوډ نه شي او د نبوت پر منهج کار ته د تعهد تذکر ورته وشي.

موږ د دغې ابتلا پر مهال د خپلو خویندو لپاره ډېرې دعاوې کوو او د مظلومیت د افشا کولو لپاره یې خپل مکلفیت نه هېروو.

«**وَالَّذِينَ كَفَرُوا بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ إِلَّا تَفْعَلُوهُ تَكُن فِتْنَةٌ فِي الْأَرْضِ وَفَسَادٌ كَبِيرٌ**» [انفال: ۷۳]

**ژباړه:** *«کوم کسان چې له حقه منکر دي، هغوی يو د بل ملاتړ کوي. که تاسو دا (يو له بل سره ملګرتيا) ونه کړئ، نو په ځمکه کې به فتنه او ستر فساد راولاړ شي.»*

**د حزب التحرير- مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو برخه**

**۱۴۴۵ هـ.ق کال، د رمضان ۹مه**

**۲۰۲۴م کال، د مارچ ۱۹مه**

**د صدور ګڼه: ۱۴۴۵/ ۰۲۹**

**ژباړن: محمد حامد**